# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد       بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم       از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com       www.afgazad.com

| مسایل ایدیولوژیک | Ideological |
|---|---|



محمد هارون خپل شعشعي


۲۲ جون ۲۰۱۲

## د
## علي محمد مُخلِص
## عرفاني فرهنګ
## د
## محمد هارون خپل شعشعي
## ليکنه او څېړنه
## ۵۵

**۱۱۸- طريقت :**

داسلامي تصوف او عرفان مشرانو، د زياترو عرفاني اصطلاحاتو په شان، د طريقت اصطلاح هم په بېلابېلو ډولو بيان کړې ده . ځينو طريقت، د زړه او باطن داسي پاکوالی ګڼلئ دئ، چي د شرعي احکامو په بشپړ تطبيق او له زړه څخه د ماسوا الله په نيست کولو تر لاسه کيږي . له همدې اسيته، صوفيانو او عارفانو ته د طريقت خاوندان وايي، چي د شريعت او باطني پاکی پر لار روان دي [۱] .

وتلی عرفاني مفکر - شيخ عزيزالدين نسفي (۶۳۰ - ۷۰۰ هـ ق) په خپل لوړ عرفاني اثر « انسان الکامل » کي طريقت د انبياوو کړنه بولي؛ او د « کامل انسان » عرفاني اصطلاح د هغه چا دپاره کاريي، چي د شريعت، طريقت او حقيقت په ګاڼو سمبال يي[۲] . ځينو طريقت هغه پوهه ګڼلې ده، چي موخه يا هدف يي د نفس بشپړتيا، د روحانی صفاتو پرمختګ، د ښو خويو او اخلاقو روزنه او په پای کي د زړه پاکوالی دئ . د دوی په نظر، دا ډول پوهه، يوازي د مشاهدې او تجربې له لاري ترلاسه کېدای سي، نه د منطق او استدلال له لاري[۳] .

ځينو نورو، طريقت د عرفاني سير او سلوک په اوږده لار کي تر شريعت وروسته، دوهم پړاو ګڼلئ دئ، چي د عرفاني پوهي او مجاهدو له مخي د خاصو يا ځانګړو خلګو مرتبه ده[۴].

دپښتنو عرفاني او سياسي لارښود - بايزيد روښان اورمړ' انصاري' ( ۹۳۲ - ۹۸۸ هـ ق) په خپل عرفاني اثر « صراط التوحيد » کي طريقت د پيغمبرانو کار او د پريښتو خوی بولي[۵] . د همدې اثر په يوه بله برخه کي د طريقت د ادا کولو په اړه داسي ليکي : « د طريقت اداکول دادي، چي د شريعت له عبادت سره بل عبادت يو ځای کړي؛ له لمانځه سره د نفل لمونځ يو ځاي کړي؛ له روژې سره نفلي روژه ملګرې کړي؛ له زکات سره سخاوت مل کړي؛ له حج کولو سره کامل پير يو ځای کړي، تر څو عبادت ډېر سي[۶] . » لکه څنګه چي

مؤبد کیخسرو اسفندیار هم په خپل « د بستان مذاهب » کي اشاره کيي(کوي)، طريقت د ميا روښان په عرفاني ډکتورينو کي د جليل د کور ( زړه ) طواف، له نوس سره همېشنۍ جګړه او د ملايکو اطاعت دئ[7].

د عرفاني طريقت تر ټولو لوړ مقام ( سکونت) ته رسېدلئ عارف ، علي محمد مخلص، هم په خپل عارفانه کلام کي د اسلامي تصوف او عرفان د منلو اصولو او د خپل کامل پير ، ميا روښان، د عرفاني نظريو په روڼا کي، طريقت ته په خورا درنه سترګه ګوري؛ او له ستوري سره يي تشبيه کيي:

شريعت مثال د شپي طريقت ستورى

حقيقت مثال ښکارند دئ و قمرته

په بله غزله کي طريقت د ملکوت له لوړ مقام سره پر تله کيي؛ او د پوهي هغه سرچينه يي بولي، چي په رڼا کي ( کي يي) پټ حقيقتونه روښانه کيږي :

ګښته خر له نشسته سړيه بِه دئ

شه له ناسته، رونده د طريقت بنه

طريقت د ملـــــکوت مقام ياد شوئ

حقيقت د جبروت مقام حُريت بنه

لوى دانش په طريقت د خواطر دئ

شه ښکارند له طريقته حقيقت بنه

د نورو مالوماتو دپاره وګورئ : شريعت ، حقيقت، معرفت ، قربت، وصلت، وحدت، سکونت، مقام او حال .

**لمنليکونه**

١ عميد ٣ : ١۶۶٩ – ١۶٧٠ .

٢ نسفي، انسان الکامل ٣ .

٣ نيرومند محقق ۶٠ .

۴ وردى، « تعليقات، » زبدة الحقايق ١٢۵ .

۵ بايزيد روښان، صراط التوحيد ٨۶؛ حبيبي، د پښتوادبياتوتاريخ ٢ : ٣٣۴ .

۶ بايزيد روښان، صراط التوحيد ١٠٠.

٧ اسفنديار ٢٨٢ .

**١١٩- ظاهر او باطن :**

ظاهر او باطن د هغو عرفاني مسألوپه ډله کي دي، چي د اسلامي تصوف او عرفان د خورا ډېرو متفکرو عارفانو پام يي اړولئ دئ . اسلامي عارفان د ظاهر او باطن عرفاني - فلسفي مسأله د قرآن مجيد د حديد د سورت د دريم آيت ( ۵٧:٣) د يوې برخي « هوالاول و الآخر وهو الظاهر والباطن . . . » پر بنسټ سپړي . د دي مبارک آيت د ښکارندي لاربنووني له مخي، الله سبحانه و تعالى لومړى او وروستى، ظاهر او باطن دئ .

د تصوف اوعرفان مخکښان استدلال کيي، چي  د شيانو ظاهري جولې، نه يوازي په هغو کي نغښتي حقايق په بشپړه توگه  نه ځرگنديي، بلکي کله کله پلټونکي د تېرايستني، انحراف او گمراهی خواته هم بيايي .  له دې امله عقيده لري، چي  بايد هر څه د باطن په ديد يا د زړه په سترگو وکتل سي؛ او له ظواهرو څخه  د حقايقو و اصل، منشأ او ريښي ته پام  وسي . عارفان ادعا کيي، چي د باطني پوهي په مرسته سره  کولای سي د هر موجود او هري پديدې  سر، منځ او اخير وگوري . په داسي حال کي، چي د دوی په باور، د اسرارو او پټو حقيقتو له پوهي بې برخي کسان تر برمنډو او سربېرنو واقعيتو آ خوا، هيڅ نسي کتلای .

په اسلامي تصوف او عرفان کي، د ظاهر او باطن عرفاني مسألې ته، د يوې سيکي د دوو مخو په سترگه کتل کيږي . د دې خبري مانا داده ، چي ظاهر او باطن د د هر موجود او هري پديدې نه بېلېدونکي برخي دي؛ په بله وينا هره  برخه يو بل ته  لازم او ملزوم ده .

د روښانيانو په گډون، د اسلامي تصوف او عرفان په پراخ ډگر کي، د ظاهر او باطن په باب گرده عرفاني نظريات له ياد سوي قرآني نص څخه الهام مومي . زموږ باريک بين عرفاني شاعر،  علي محمد مخلص، هم د ظاهر او باطن ژوره  فلسفه د اسلامي عرفان او روښاني طريقت د نظريو په څېر د قرآني اصولو پر پاخه تاداو درولي ده؛ او په خپلو ژورو نظريو کي د ظاهر او باطن د عرفاني -  فلسفي مسألي ټول اړخونه، په ډېري ښکلا او نازک خيالی سره بيان کړي دي . په يوه غزله کي د سپېڅلي قرآن د حُکمو په رڼا کي د ظاهر او باطن نه شلېدونکي خپلمنځي( ډيالکټيکي) اړېکي داسي انځوريي :

دا عالَم ظاهر، باطن مخ و استـــر دئ
په ارواح گوره باطن په تن عيان مخ
حق اول، آخر، ظاهر، باطن موجود شه
وعارف ته يي ځرگند که پټ اعلان مخ

په بله ښکلي غزله کي د ظاهر او باطن فلسفه د وحدت او کثرت له فلسفي عالمو سره  په تړاو کي څېړي؛ ظاهر او باطن د اضدادو په څېر ښيي؛ باطن د ټولو ظواهرو مور بولي؛ او ظواهر گرده  د باطني وجود د تجلا نخښي گڼي :

کُل ظاهر د باطن ضد دئ که باور کړې!
ضد له ضده دئ ځرگند بينا، خبير ته
باطن پټ و په ظاهر پوري معلوم شـــه
شپه له روځي شوه ځرگنده دل مُنير ته
کُل ظاهر دي له باطنه موجود شـــوي
باطن توري ظاهر کښل ښکاره فقير ته
ظاهر يخ باطن اوبه دي بې گمانـــه
کثرت يخ وحدت اوبه ظاهر و پـــير ته
د باطن، ظاهر تمثيل گوره د غـــوړو
د ظاهر کثرت مانند کيږي و شيـــر ته

مخلص، په يوه بله غزله کي دا خبره شني، چي د عرفان لمر، عارف ته د باطن سترگي ورکيي؛ عارف د دغو باطني سترگو په مرسته هر حقيقت د باطن او باور په ديد ويني . لکه څنگه چي مو د گومان او يقين تر سر

عنوان لاندي يادونه کړې ده، يوازي د يقين په سترګو د پيښو او موجوداتو کتنه، د هر ډول تېر وتني، بې لارۍ او انحراف خطر له منځه وړي؛ او هر څه په خپله ريښتيني بڼه جلوې کيي (کوي) . د مخلص کلام دئ، چي وايي :

که آفتاب د معرفت دي په زړه وخوت
پټ، ښکاره په عالم ګوره د جانان مخ
هر ظاهر به د باطن په سترګــو ګورې!
د يقين په ديد به ويني پټ پنهـــان مخ

په يوه بيت کي دا عرفاني او فلسفي مسأله بيانيي، چي عارف تل د هري پيښي او هر موجود په ظاهر او باطن کي يوازي يو حقيقت ګوري؛ او هغه حقيقت د حق تعالی ناپايه او لازواله هستي ده . د اُمي او عارف له نظره، د موجوداتو او حقايقو ظاهري بڼي، ځمکه او اسمان توپير لري . عارف د وني يا درختي په هره پاڼه کي د پروردګار د معرفت لوی لوی داستانونه ويني؛ خو بېچاره اُمي هغې ته د يوې کوچنی او بې ارزښته پاڼي په سترګه ګوري . مخلص دا عرفاني نظريه داسي بيانيي :

ته ظاهر تر ظاهر يې و عارف ته
او باطن د هر باطن جانِ جانان ته

بل ځای، د باطن په وړا ندي د ظاهر کمزورۍ او بې وسی ته داسي ګوته نيسي :

په ظاهر کي د باطن ننداره څه شي؟
د بې مثله آواز آروه له قــــبوزه

په بله غزله کي د مخکني استدلال پر خلاف، په باطني کشف او مشاهده کي د ظاهري حقايقو ارزښت په ګوته کيي؛ او د دې خبري د اثبات هڅه کيي، چي بې کثرته د وحدت؛ او بې ظاهره د باطن ننداره ګرانه او ان ناممکنه ده :

تر ظاهر پوري ښکاره د باطن ملک شه
و بيناو ته ښکـــاره شه لوړ له کوزه

مخلص، عرفان د داسي باطني شتمنی په توګه ښيي، چي د دونيا په ظاهربينو خلګو کي غوښتونکي ډېر لږ دي :

د باطن دولت عرفان طالب يې کم دئ
د دنيا طالبـــان ډېر دي زر اندوزه

په يوه ښکلي غزله کي عرفاني سالکانو ته بلنه ورکيي، چي د زړه سترګی پرانيزي؛ او د هغه بې ساري لطيف درياب ننداره وکي، چي پر ټولو کايناتو را چاپېر سوئ دئ؛ سر او پای، اول او اخير، بدلون او اوښتون نه لري؛ د هر باطن، باطن ؛ د هر ظاهر، ظاهر ؛ او د هر موجود د ژوند او ژواک سرچينه ده . د مخلص عرفاني ژورتيا په دې بيتو کي وګورئ :

دی باطن د هر باطن پټ دئ په پټ کښي
په باطن به پټ عرفـــان ويني لطيف
په ظاهر سترګو ظاهر دئ په معنا۱ کښي
کُل باطن به حق يـــزدان ويني لطيف

مخلص، د کامل په وجود کي د ظاهر او باطن د یووالي مسألي ته په ډېره لوړه سترګه ګوري . د ده په نظر، د کامل پیر په وجود کي د ظاهر او باطن دواړو بشپړتیا ضروري ده . د ده رسا بیان دئ، چي وايي :

رسیده کامل هغه بلـــلئ بـــــویه
چي ظاهر، باطن یي دواړه استـــوا
چي ظاهر یي آراسته باطن یــي خوار وي
منافق دئ په قیــامت به شي رسوا
چي باطن یي سره جوړ ظاهر یي وران وي
دیوانه، احمق ځرګـــند وي بې پروا
د ارشاد لیاقت نه لري مجـــذوب دئ
د ارشاد چار په کامــل باندي روا
چي ظاهر یي له عالَم باطـــن له خدایه
دا عمل د رسیده کامل پېشـــوا

**د نورو مالوماتو دپاره وګورئ : عالم او د هغه ډولونه .**

**لمنلیک**

**۱ اصل : معنی .**

پاته لري